Downloaded from: justpaste.it/8l72k

# د ښځو د حقوقو په اړه د عالیقدر امیرالمؤمنین لخوا ځانګړی فرمان صادر شو

بسم الله الرحمن الرحیم

د اسلامي امارت د مشرتابه مقام ټولو اړونده مسئولینو، علماء کرامو او قومي مشرانوته هدایت کوي چې د ښځو د لاندې حقوقو د پرځای کولو لپاره جدي اقدامات وکړي.

۱ـ د نکاح پرمهال د بالغو ښځو رضایت ضروري دی (خو چې نکاح له کفو (سیال) سره وي، د فتنې او فساد خطر هم په کې نه وي).

هیڅوک ښځې په جبر او اکراه سره پرنکاح کولو نشي مجبورولای.

۲ـ ښځه مال نه، بلکې اصیل او آزاد انسان دی، هیڅوک یې چاته د صلحې په بدل (بدو) کې نشي ورکولای.

۳ـ د میړه له وفات وروسته، چې شرعي عدت (څلورمیاشتې او لس شپې یا وضع د حمل) تیر شي، کونډه ښځه نه لیور ځانته په زور نکاح کولای شي او نه بل څوک، کونډه د نکاح کولو او د خپل راتلونکي سرنوشت په هکله د خپل اختیار څښتنه ده، (خو چې د کفو (سیال) اصل او د فتنې او فساد مخنیوی په نظر کې نیول شوی وي).

۴ـ له نوي خاوند څخه د مهر اخیستل د کونډې شرعي حق دی.

۵ـ ښځه د (وفات شوي) میړه، اولاد، پلار او نورو خپلوانو په مالونو کې په فرضیت او عصبیت سره د میراث حق او ثابت سهم لري، هیڅوک یې له خپل حق څخه نشي بې برخې کولای.

۶ ـ کوم څوک چې متعدد ودونه لري، مکلف دی چې ټولو ښځوته د شرعي حکم سره سم حقوق ورکړي او ترمنځ یې عدل وکړي.

د پورته حکم د تعمیل او په ښه ډول تطبیق لپاره دې لاندې امارتي ارګانونه په خپله خپله برخه کې اقدامات ترسره کړي.

**الف : د حج او اوقافو وزارت ته حکم کیږي چې د ښځو د حقونو اړوند هدایاتو په هکله علماء کرام او خطیبان وهڅوي، ترڅو د خپلو خطبو او موعظو له لارې خلک پوه کړي چې له ښځو سره ظلم کول او د هغوی حقوق نه ورکول د الله تعالی د نارضایتۍ او د هغه د عذاب او قهر سبب ګرځي.**

**ب : د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت دې هم د خپلو وسائلو له لارې د ښځو د حقونو اړوند ترغیبي او ترهیبي ګڼور مطالب په تحریري او صوتي بڼه په دوامداره توګه نشرته وسپاري، د ګڼورو رسائلو تکثیر او اشاعت ته دې د فن او استعداد خاوندان وهڅوي، تر ممکنه بریده دې ځینې مهمې لنډې رسالې له خپلو وسائلو څخه په استفاده چاپوي، ترڅو د ښځو د شرعي حقوقو په هکله د علماء کرامو توجه جلب، پوهاى عام او د روان ظلم مخنیوی اسانه شي.**

**ج: د سترې محکمې عالي مقام دې ټولو محاکموته هدایات وکړي چې ترڅو د ښځو خصوصا د کونډو د حقونو او پرهغوی د ظلمونو اړوند عریضې په اصولي ډول واخلي او په هکله یې عفلت ونه کړي، ترڅو له ظلم څخه د خلاصون او د خپلو شرعي حقونو د ترلاسه کولوپه برخه کې له مایوسۍ سره مخ نه شي.**

**د: والیان او ولسوالان دې د یادو وزارتونواو سترې محکمې سره د دغه فرمان د تطبیق په بر خه کې هر اړخیزه همکاري وکړي. والسلام**

د اسلامي امارت د مشرتابه مقام

۲۸/۴/۱۴۴۳هـ ق

۱۲/۸/۱۴۰۰هـ ش – 2021/12/3م

## فرمان خاص عالیقدر امیرالمؤمنین در مورد حقوق زنان صادر شد

بسم الله الرحمن الرحیم

مقام رهبری امارت اسلامی به همه مسئولان امارت اسلامی، علمای کرام و بزرگان قومی هدایت می‌دهد که برای تامین حقوق ذیل زنان اقدامات جدی نمایند:

۱- رضایت دختران بالغ در اثنای نکاح ضروری است (البته، نکاح با کفو (هم مثل) باشد و خطر فتنه و فساد هم دران نباشد).

هیچکسی کدام زن را به جبر و اکراه به نکاح مجبور نمی‌تواند.

۲- زن مال نیست، بلکه انسان آزاد و اصیل است و هیچکسی آن را در بدل صلح (بد) داده نمی‌تواند.

۳- پس از وفات شوهر، هرگاه عدت شرعی (چهار ماه و ده روز و یا وضع حمل) سپری شود، زن بیوه را نه برادر شوهر به زور به نکاح گرفته می‌تواند و نه کسی دیگری. زن بیوه در مورد نکاح و تعیین سرنوشت خود صاحب اختیار است (البته که اصل کفو (هم مثل) و جلوگیری از فتنه و فساد در نظر گرفته شده باشد).

۴- گرفتن مهر از شوهر نو حق شرعی زن بیوه است.

۵- زن در مال شوهر متوفی، اولاد، پدر و دیگر اقارب به طور فرضیت و عصبیت حق میراث و سهم ثابت دارد و هیچکسی وی را از حق اش محروم کرده نمی‌تواند.

۶- کسی که چند زن دارد، مکلف است حقوق همه زنان را مطابق حکم شرعی بدهد و در بین شان عدل قائم کند.

برای تعمیل حکم فوق و تطبیق خوب آن، ارگان‌های ذیل امارت اسلامی در بخش‌های مربوطه خود اقدامات انجام دهند:

الف: به وزارت حج و اوقاف حکم می‌شود که در مورد این هدایات در باره حقوق زنان؛ علما و خطبای کرام را تشویق نماید، تا از راه خطبات و مواعظ خود مردم را بفهمانند، که بر زنان ظلم نشود و ندادن حقوق زنان سبب نارضایتی و قهر و عذاب خداوند متعال می‌گردد.

**ب: وزارت اطلاعات و فرهنگ نیز با استفاده از وسائل خود مطالب مفید ترغیبی و ترهیبی را در باره حقوق زنان به شکل تحریری و صوتی به گونه دوامدار به نشر بسپارد. صاحبان فن و استعداد را برای تکثیر و اشاعت رسائل مفید تشویق نماید و به حد ممکن بعضی رسائل کوتاه و مهم را با استفاده از وسائل خود به چاپ برساند، تا در باره حقوق شرعی زنان توجه علمای کرام جلب و زمینه آگاهی عامه و جلوگیری از ظلم جاری بر زنان، آسان شود.**

**ج: مقام عالی ستره محکمه به تمام محاکم هدایت دهد تا عرایض زنان خصوصا در باره حقوق بیوه‌ها و ظلم بر آن ها را به گونه اصولی بگیرند و در این مورد غفلت ننمایند، تا زنان برای نجات از ظلم و به دست آوردن حقوق شرعی شان نا امید نشوند.**

**د: والیان و ولسوالان با وزارت‌خانه‌های متذکره و سترکه محکمه در عرصه تطبیق این فرمان همکاری همه‌جانبه نمایند. والسلام**

مقام رهبری امارت اسلامی

۲۸/۴/۱۴۴۳هـ ق

۱۲/۸/۱۴۰۰هـ ش – 2021/12/3م

## Special Decree Issued by Amir al-Momenin on Women's Rights

**In the name of Allah, the most merciful and the most compassionate**

**The Islamic Emirate's leadership directs all relevant Organizations, Ulema-e Karam and Tribal Elders to take**

**serious action to enforce Women's Rights.**

**1) Adult women's consent is necessary during Nekah/marriage. (though, both should be equal with no risk of sedition.)**

**No one can force women to marry by coercion or pressure.**

**2) A woman is not a property, but a noble and free human being; no one can give her to anyone in exchange for peace deal and or to end animosity.**

**3) After the death of the husband, 'Sharaie Adat' (four months and ten nights or pregnancy) passes, no one can marry a widow by force including her relatives. A widow has the right whether to marry and or to determine/choose her future. (though, the principle of equality and preventing sedition should be kept into consideration).**

**4) It is the sharia right of a widow, to obtain 'Mahar' from her new husband.**

**5) A widow has heritage right and fixed share in the property of her husband, children, father and relatives, and**

**no one can deprive a widow of her right.**

**6) Those with multi marriages (more than one wife) are obliged to give rights to all women in accordance with sharia law, and maintain justice between them.**

**For proper implementation of this decree, relevant organizations are instructed to do the following acts:**

**A) The Ministry of Hajj and Religious Affairs is instructed to encourage scholars to give awareness to the people about women's rights through their letters and preaching that oppressing women and not giving them their rights will cause Allah's dissatisfaction and his torment and anger.**

**B) The Ministry of Information and Culture is instructed, to publish articles related to women's rights through its means in writing and audio, as well as, encourage writers and activists to publish useful articles on women's rights in order to attract attention of Ulema and the people about women's Sharia rights; to prevent the ongoing oppression.**

**C) The Supreme Court must issue instructions to all courts to consider applications for women's rights, especially widows' rights and their oppression in a proper and**

**principled manner, in order not to disappoint women of getting rid of oppression and obtaining their Sharia rights.**

**D) Governors and district governors must cooperate comprehensively with the named ministries and the Supreme Court in the implementation of this decree.**

Wasalam

۲۸/۴/۱۴۴۳هـ ق

۱۲/۸/۱۴۰۰هـ ش

3/12/2021